**لیکونکی** : پا ل ستا یګن (Pal Steigan) .

**منبع اودخپریدو نیټه** : انفا رمیشن کلیرنګ هوز «2020-02-01».

**ژباړونکی** : پوهندوی دوکتور سید حسا م «مل» .

---

# ا مپریالیزم اوپه مینځنی ختیځ کي دآزادی ستراتیژیګا نی

## Imperialism and liberation strategies in Middle East

**دا مها ل دا مریکی متحده ایالات په مینځنی ختیځ کی د خپل واک اودهژمونی په سا تلو کی لوی ستونزي لري ، ددی هیواد یعنی د متحده ایالات سرتیری په عراق کی نا غوښتلی اعلان شوی یعنی چی دغه سرتیری نه غوښتل چی دجګړی لپاره عراق ته لاړ شی اود بلی خوا څخه په سوریه کی متحده ایالات او د دوی بهرنی ترهګر په هره میا شت کی ترلاس لاندی سیمی او موقیعت د لاسه ورکوی اوا مریکی بیا ددی مسلی په وړاندی خپل غبرګون سوریی ته د زیا ت سرتیرو په لیږلو اودایران په ګواښلو سره ښیی . اوموږ په ورته وخت کی د امریکی د سیا ست په وړاندی په لبنا ن ، عرا ق اوایرا ن کي پراخه لاریونونه ولید ل .**




کله چي په ملیونونوعراقیا نو په دی وروستیو کي سړکونو ته په لاریونونو را ووتل نودهغوی اصلی شعا ر دا وه « **متحده ایالات له مینځنی ختیځ څخه ووځه** » نو څنګه با ید یو څوک دغه شعا ر تحلیل کړی ؟

دا بلکل ښکاره او څرګند دی چي په مینځنی ختیځ کی ډیری تولنیز تاوتریخوالي

لکه قومی ، مذهبی ، طبقا تـی ، کلتوری ............ شتون لری کوم چی دغه سیمه داختلافاتو اودشخړو دپیوند اویا دټوټو دیوځای کیدو ډیر اوږد تاریخ لری یعنی نه یواځی دسلګونو کالو را په دی خوا بلکه دهغه تاریخ حتي یو څو زره کاله دمخه هم شتون لرلی دی ، اما دا بلکل یوه طبعی خبره دی چي د نړي په هر ګوټ کي د لوړی طبقی د فسا د په وړاندي تل د بغاوت اود شورش زیات دلایل وجود لرلی دي ، مګر هیڅ یو بغا وت یا پا څون نشی بریا لی کیدی ، که چیری دا په انفرادی هیواد اوسیمه کي د ځا نګړو شرایطو د ریښتیني اوبشپړ تحلیل پراسا س نه وي .

دقیقاً لکه څنګه چې په افریقا کې ، د مینځني ختیځ پولې پخپل سر ډول رسم شوې دي. چی دا پخپله د امپریا لیستي قد رتونو د کا رموند نې محصول دي ، او یوازې په کمه پیمانه یا حد پورې محصولات دی چې خلکو پخپله غوښتلي دي.یا په ساده عبارت سره په افریقی اوپه مینځنی ختیځ کی دامپریالیزم په لاس وهنی او ما نور سره پولی پخپله خوښه ټا کلی شوی یا رسم کړل شوی اما یواځی په کمه اندازه سره دغه پولی د خلکو په غوښتنی سره په نښه شوی دي .

د ا ستعما رد نسکورید و یا دا ضمحلال د تاریخ په پړاو کی ،د یو ځواکمن پا ن عربی سکولار غورځنګ نظریه موجوده وه اوهغه داچی غوښتلی چی عربی نړی سره متحد او یو موټی کړي ، دغه غورځنګ د ملت پا لنی او د نا سیو نالیستی نظریاتو تر تاثیر لاندی شکل او ځان اخیستی وه کوم چی په هغه مها ل کي دغه غورځنګ دخلکو له خوا په ډیر جدی بنیه ملا تړکید ل .د **اردن پاچا لمړی عبد الله** غوښتل چی د **اردن** سره **فلسطین** او **سوریه** یوځای کړي ، **مصر** او **سوریه** په لنډه توګه یوه اتحا د یه دجمهوری عربی په نا مه رامینځته کړ ، **معمرالقزافی** هیله درلود چی **لیبی** ، **مصراوسوریه** سره په ګډه یو جمهوری فد راسیون جوړ کړی په کا ل (1958) کی یو کنفدراسیون په بیړه سره منحل شو کوم چی **دعراق** اود **ارد ن** ترمینځ ا یجا د شوی وه . ټول دغه هڅی او اند ګذری او لنډ مهاله هڅی او کوښښونه وه ، اما هغه څه چي پا تـی دي هغه د **عرب لیګ** دي کوم چي نه یو دولتی فد را سیون دی او نه هم یو ټینګ اتحا د .او وروسته له هغه مونږ د **کرد** دیو دولت دررامینځته کید وغوښتنی لرو، اوپه څه ورته غوښتنی چی دیو اویا دڅو وړو**کردی** دولتونو څخه متشکل اوسی – اما دلمړی نړیوال جګړی تر ټولو متنا قض محصول د فلسطین په خا وره کي داسرایل ددولت را مینځته کول وه ، لکه هغسی چي دلمړی نړیوال جګړی په جریان کي دانګلستان دبهرنیو چارو وزیر **ارتور بالفورد** (Arthur Balfour) هغه څه

خپاره کړل کوم چې د **بالفور** داعلامی په نوم وپيژندل شو چې دغه اعلامیه ....... د یهود یا نو لپا ره د فلسطین په خاوره کې د یو ملي کورپه جوړولو سره په ډیر ګرمی سره استقبا ل او بد رقه شو .

مګر ددولتونو په جوړولو کی ددی ټولو هڅو اسا س څه دي **؟** دبریا یا ناکا می لپا ره کوم شرا یط دي **؟**

**امپریا لیستی قدرتونه ددوی ترمینځ د ځواک داړیکو پر اسا س نړی سره ویشي**

**لینن** پخپل یومقا له کې د«**امپریا لیزم دپا نګوالي ترټولو لوړمرحله** » ترسرلیک لاندی ډیرپرځای او تلپا تې توضیحا ت یا څرګند ونې یې وړاندی کړکوم چې هغه پخپل دی مقا له کې د امپریا لیزم د دی پړاو پنځه اسا سی ځا نګړتیا وهم توضیح کوی چې عبا رت دی له :

**1-** د تولید اود پا نګي غلظت او تراکم دومره لوړ مرحلی ته رسیدلی کوم چې انحصار رامینځته کړي ، چي په اقتصادی ژوند کي پریکړه کونکی رول لوبوی .

**2-** د با نکی اود صنعتی پا نګی یوځای کیدل یا ا دغا م اود دی « ما لی پانګي» پر بنیاد د « ا لیګا رشی پا نګي» رامینځته کیدل.

**3-** د پا نګی صادرات د توکو ( کالا ) له صادراتو څخه متمایز کیږی کوم چې دځانګړی اهمیت څخه برخورداره دي .

**4 –** د پا نګوالی د بین المللی ا نحصا ری ا تحا د یو جوړول کوم چې نړی پخپل مینځ کی سره شریکوی یا نړی پخپل مینځ کی سره په اشتراک کی اچوي .

**5 -** دټول نړۍ د ځمکي ویش دلویو پوره رسید لو سرما یه داری قدرتونو په مینځ کي .

مګر « **لنین** » دا مسله یا موضوع هم په ګوته کړ چي پا نګوالي هیوادونه په ځا نګړی بڼی د تولیدی قوتونو د ناموزون ودی اوپرمختګ په د لیل په نا موزون ډول دودی په حال کی سیر کوی چی دیو څه مودی په تیرید و سره د نړی دویش پر څرنګوالي با ندی له سره په اختلاف کی غورځیږی کوم چې ددغه نا برابری


په پای کې د نړۍ بیا له سره ویش د نوی ځواک داړیکو پر بنیا د تحمیل کیږي اولکه همغسی چې « لینن » وایي :

[ پوښتنه دلته دا دي چې له جنګه پرته بل څه شي دسرمایه داری ترنظرلاندی کیدی شی شتون ولری ترڅو چې له یو خوادتولیدی قوتونو د ودی اود سرما یی د زیرمی ترمینځ اختلاف اوموجوده تفاوت له مینځه ویسی اوله بلی خوا څخه د مستعمراتو په ویش اوتر نفوذ لاندی سیمو یا حوزو کی د (ما لی پانګونـي) د تا مین لپاره په کار لاس پوری کړي اویا پرتهولو موجوده ستونزو باندی غلبه تر لاسه کړي ]

دوه نړیواله جنګونه هغه جنګونه وو ، چې د امپریا لیستي ځواکونو ترمینځ د قد رت په اړیکو کی د نا برابری له امله راپورته شوي ، بریتانیاوی امپراتوری دخپل لوړتیا اویا له خپل اوج څخه اغوښتی وه اودانګلیس سرمایه داری په دی سیا لی کی له نوروسرمایه داری هیوادونوڅخه وروسته پا تی شوځکه چې متحده ایالات او ا لما ن لوی قوتونه وو چې تر ټولو لوی صنعتی اوتکنا لوژیکی وده یی در لوده چې په نـها یت کی د دی نا اړوند اود نا وړی ګټی د تر لاسه کید و له امله وضع د ا نفجار سره تر سترګو شو نه یوځلی بلکه دوه ځلی دغه چاودنه په نړی کی رامینځته شو چی هغه له دوه نړیوال جنګونو څخه عبا رت دي.

## وارسیلا اویا لتا (Versailles and Yalta) :

دلمړی نړیوال جګړی ګټونکي(فاتحان) نړیَ پخپل اود ما تی خوړونکی هیوادونو ترمینځ سره وویشل ، اصلی بایلونکي هیوادونه ، ا لما ن ،اتریش ، مجارستان ، روسیه (پخوانی شوروی اتحاد) اوعثما نی امپراتوری وه دغه ویش په ورسیلا کی په لاند نی کوچنی تړونو سره ترسره شو :




*اروپا د ورسیلا تړونونو وروسته (ویکیپید یا)*


******

*لاندی نقشه ښیي چي عثما نی امپراتوری څنګه دړی وړی شو*




*ددویمی نړیوال جګړی په پای کي بریالی ځواکمن زبرځواکو دشوروی اتحاد دکریمیا په ټاپوګانو یا په یلتا (Yalta) کي سره په یوه غونډه کی ولیدل ، **روزولت چرچل** اوس**تا لین** په دی نا سته کی سره هوکړه وکړه چي اروپا دا لما ن درانژدی ما تي څخه وروسته با ید سره څنګه وویشل شي ، دغه پورتنی نقشه ښیی چی*

داڅنګه له مخکی پلان شوی وو چی دوه بلاکونه رامینځته شی کومی چي د سړی جګړی اسا س را کیږدی یا وښیی، دا با ید هم په پا م کي وسا تي چی **یوګسلاویا** د **ورسیلا** څخه وروسته په کا ل (1919) د یوحا یل هیواد په بڼه ددی دوه بلاکونو ترمینځ وزیږول شو او ټینګا ر وشو چی دغه هیواد نه یواځی داچی وسا تل شی بلکه باید لاپسی غښتلی شی نو په دی اسا س **یوګسلاویا** هغه هیوا د دی چی د **ورسیلا** اود **یلتا** د توافقنا می څخه په ارث راپا تی هیواد وه .



د تاریخ یا د زمانی بد مرغه بد لون کله چي شوروی اتحا د ړنګ شو

دامپریالیزم په دوره کي ،تل دمختلفو لویو قدرتونو ترمینځ مبا رزه وه ، دغه مبارزه یا جګړه با زارونو ، ارزا نه کارګرانو ته لاسرسی ، اومه یا خامو موادو انرژی ، ترانسپورتي لارواود نظا می کنترول په اړه وه . اوامپریالیستی هیوادونه نړی دخپل ځواک د لرلو په ا ندې ول پخپل مینځ کی ویشلی وه اما دغه امپریالیستي قوتونه په ناموزون بڼی سره دودی اود پرمختګ په حا ل کی پرمخه تلله .

*نو که چیری یوه ددی ځواکونو یوه ځواک نسکور شي اویا چي دهغه دلاسه دځینی سیمو واک لاړ شی نو درقیبو دولو ترمینځ دهغه تش ځای دډکولو یا دهغه سیمی د رانیول په منظور مبا رزه پیل کیږی ، امپریا لیزم دلته د هغه ا صولو څخه پیروی کوي کوم چي **ارسطو** پخبل فزیک کي هغه ته د **وحشت ویکی** (Horror Vacui) یا دخا لی ځای ویره نوم ورکړی وه .*

*اوداهغه څه ووکله چی « شوروی ا تحا د » سره جګړه له لاسه ورکړه په کا ل (1991) کی شوروی اتحا د خپل شتون یا موجود یت پای ته ورسول او ډیر ژر ختیځ بلاک هم تاریخ ته وسپارل شو، اوپه دی توګه دقدرتونو ترمینځ مخکینی توازن مات شو یعنی هغه څه چی زوړ نظم ساتلی وه او اوس یوه پراخه ساحه یا سیمی بیا له سره دویش لپاره شتون پیداکړی، کمزوره یا ضعیف روسیه په سختی سره وکولی شول چی خپل خاوره وساتی اونه په هغه توله سیمه کی چي د مخه دشوروی اتحاد لخوا کنترول کیده.*

*« هیڅکله دومره لویه ساحه د بیا له سره ویش لپا ره چمتو یا خلاصه نه وه ، د دوو بورږنونکو جګړو پایله وه ، چي نوی یی دغچ اخیستلو لپاره راپورته شول ، دا نه یواځی دجګړی لامل کیدی شی ( بل شتا یګن ۱۹۹۹ ). »*




*کله چی شوروی اتحاد له مینځه لاړ یا چی دړی وړی شو نود **یلتا** او **ارسیلا** توافقنامی په واقیعت کی هم له مینځه لاړ یا مات شو اوددی جیو پولیتیکل تش ځای کنترول لپا ره د یوی سختی سیا لی لپا ره لاره پرانسته .*

دا کا رد ***یوریشیا*** لپاره د امریکې جیوستراتیجی بنسټ کېښود ،کوم چې د ***یوریشیا*** په لویه وچه کې دکنټرول خوندي کولوتمرکز کوي. دا دمتحده ایالاتو په ګټه د سره د توزیع لپا ره مبارزه ده چې د« 1990 » راهیسې د ډیری جنګونو اساس دی: سومالیا ، د عراق جنګونه ، د با لکان جنګونه ، لیبیا ، اوکراین ، او سوریه.

متحده ایالات په کلکه د دې کارمشري کوي ، او د نا ټو مخه ختیځ ته د پراخېدو او د رژیم د رنګونو د انقلابونو په شکل د بدلونونو را مینځته کولو پروسه د دې مبارزه یوه برخه وه. په کییف کې کود تا ، د نا زي عنا صرو سره د اوکراین په یوه امریکایي استعما ربد لید له او په ***ډونباس*** کې جګړه هم د دې عکس یا آنځور یوه برخه ده. ***داجګړه به ترهغه نه درېږي چې روسیه فتح او تحلیل شي ، یا دې د متحده ایالاتو یرغل پای ته نه وي رسولی.***

نو ، د بیا تکرار کولو لپا ره: ځکه چې نړی د مخه د امپریالیست ځواک ترمینځ ویشل شوې او د فتح کولو لپاره نوې استعمار شتون نلري ، لوی قدرتونه یوازې د بیا ویش لپاره مبارزه کولی شي. هغه څه چې د نوي ویش لپاره اساس او امکانات رامینځته کوي دپانګوالي غیر متوازن پرمختګ دی. هغه ځواکونه چې د اقتصادي اوتخنیکي پلوه ګړندي وده کوي دلوی بازارونو، ډیروخاموموادو، ډیر ستراتیژیک کنټرول غوښتنه کوي .

## ددوه بوړنونکی نړیوالو جګړو پایلی بیا له سره په لاس نیول

لمړی نړیوال جګړه د (شلو ) ملیونو انسانانو دوژلو اودبی شمیرو نور خلکو دټپی کیدو لامل شواوپه دوهمه نړیواله جګړه کي تقریباً (72) میلون کسان خپل ژوند دلاسه ورکړ کوم چی دا اعداد یا شمیره تقریبی ارقام دی او پر ریښتیا نی ارقا مو با ندي لا تراوسه اختلاف نظر وجود لري. داچی مونږ دلته ددی جګړو ددرجي پر شد ت با ندی خبري کوو ، نو په هرصورت دا دوه نړیوال جګړي ***دورسیلا*** اود ***یلتا*** د موافقتنا مو په رڼاه کي پاي ته ورسید نو کمه ترکمه په دی جګړو کي په حدود د(سل) ملیونو خلکو خپل ژوند دلاسه ورکړ اوبی شمیره نور ا نسا نا ن په یولړنه جبرا نونکي مصیبتونو اورنځونو باندي اخته شو چی د ژوند

تر پایه پوری دهغه څخه رنځ ورل - له کال (1991) څخه راهیسي دتیټ شدت نړیوال جګړه اوبیا په ځانګړي توګه دمتحده ایالاتو له خوا د( باطل) فتح کولو لپا ره جګړه شوي یاداچی د متحده ایالاتو له خوا د (تش=خلا) د ډکولو یا د فتح کولو اراده شوی نو **دونالد ترامپ** په دی وروستیو کی ویلی دی چي متحده ایالاتو د دروغو پربنسټ جنګونه کړي چي ددی جنګونو مالی لګښت (اته) تریلیون دالر یا (8000) میلیون ډالراټکل شوي چي دهغه سره په ملیونونو انسا نا نو هم خپل ژوند دلاسه ورکړي دي نو په دي توګه د متحده ایالاتو د نوی ویش غنیمتونه په سوله ایز بڼی سره نه دي را پیښ شوی .

## دسا یکس پیکوټ د موافقتنا می په وړاندي د پاڅون بلنه :


سییکس - پیکوټ تړون / ایسکاس پییکوکا / د انګلستان او فرانسي تر منځ د« 1916» پټ تړون و ، [1] د روسیې امپراطور او ایټالیا په موافقه ، د عثماني خلافې تقسیم کې د دوی دوه اړخیز موافقه شوي سا حې او کنټرول تعریف کړي. سلطنت. تړون د دې اسا س پراسا س و چې تریپل اینتینټ به د لومړی نړیوالې جګړې په جریا ن کې د عثما نې امپراتوری په ماتولو کې بریالی شي او د یو لړ پټ تړونونو یوه برخه یې د دې برخې په غورکولو غور کوي. لومړنی خبرې اترې چې تړون ته رسیږي د نومبر په« 1915» او د جنوري« 1916 » ترمینځ واقع شوې ، په دې نیټه کې د بریتانیا او فرانسوي ډیپلوماټانو ، **مارک سیکس** او **فرانسوا جورجز - پیکټ** موافقه شوې یا ددا شت پیل کړ دغه تړون د دوی اړوندو حکومتونو لخوا د می په « 9 » او« 16 » کال« 1916 »کې تصویب شو.

په مینځنی ختیځ کي داوسنی وضع اویا د حالاتو په اړه ځنی بحثونه او خبری اتری دی پړاو ته رسیدلي چي هغو ځانګړی خلکو کوم چي په ظاهرکی کیڼ اړخ یا افراطی ضد امپریالیستي تمایلات یا دریځ لری وایي چي وخت یي اوس رارسید لي چي ددغه مصنوعی تپل شوی پولوکوم چي د«**سا یکس پیکوټ**» او « **اورسیلا**» د موافقی یا دتړون له امله رامینځته شوی قیام او پاڅون دی وشي ځکه چي دا مصنوعي اوامپریا لیستي پولي دي ، چی خلک وجنګیږی تر هغه چي په دي پولو با ندي بیا له سره کتنی وشي .

په واقیعت کی دا متحده ایالات اواسرایل دي کوم چي په مینځنی ختیځ کي بیا له

سره دسیمی پر ویش باندی هځی اواند ترسره کوي چي دا پخپله **د دونالد ترامپ** د (پیړی د معا ملي) ستنی اوپا یي دی چي مخه يي د تل لپا ره دفلسطین ښخول اوله مینځه وړل دي اودا مسله په صراحت سره دامریکی دمتحده ایالاتو دعراق د ویشلو په ستراتیژی کی بیا ن شوی دي .

دا یوځل بیا د صیهونیست د **یونین** ( Yinon = دلوی اسرایل جوړونه ) دپلان یوه تازه نسخه ده چي هدف یی په ټوله مینځنی ختیځ کي**کانتونایز**( Cantonize = په وړوساحو ویشل) دي،اوپه دی هدف چی اسرایل په سیمه کی هیڅ مخا لف ونه لری اوپرسیمه باندی کامل تسلط اوبرلاسی ولری اوپه احتمال سره لوی اسرایل رامینځته کړي .




دا دامپریالیزم ضد عناصرنه دي کوم چي له کا ل(1919) را هیسی دامپریالیزم پولو د سا تلو لپاره هځی لا پرمخ وړی دا امپریالیزم دي کوم چی دی مقصد ته درسید لپا ره دوی ډیر وختونه داسی حرکتونه یا کړنی ترسره کوي اویا دوی په سرکي داسي ښودلي دي چي دوی بشپړ ملی خلک دی اوددی ملی توب څخه نا وړي ګټی ترلاسه کړي دي چي په پای کي بیا دوی په یوه لوبه کي زیات

د نيا بتی په جگړو کي په ابزار او وسيلو باندی اغوښتی دي يا تبديل شوی دی البته داسي پيښی د تاريخ په اوږدو کي ډير ځلی را پيښ شوی دي چي په سختی سره کولای شو هغه پيښی وشميرو ۰ د **ا لمان هيتلر اوستا (ustas)** با ند ونو ته په نژد يتوب **دکراوسی** له ناسيوناليزم څخه ناوړی استفاده وکړ کوم چی هغوی له کا ل(1929) ترکا ل( 1945 ) پوری په سلگونوزره يهودی **صربيان** او **روميان** ووژل او ددوی ايديولوژيک اوسياسی نسل **دکراجينا** (Krajina) دسيمی خورا ياغی توکميز پاکونه ترسره کړل اوپه کا ل (1995) کی يی دعملياتو په طوفان کي (200000) **صرب** مجبور کړل چی له خپل کور او هيواد څخه دبا ندی شی **هتلر** همدارنگه **داکراين** دافراطی ناسيونا ليستا نو يعنی د اسيپيان **بنداراس اوين** (Banderas Oun) اوبيا وروسته د **بند را**(Bendra) له مړينی څخه ناوړه گټی ترلاسه کړکوم چی دهغه ځای خلک مجبورشوچی کډی وکړی نوديوداسی تاريخی څرگندونی په نظرکی نيولوسره (سی آی ای) خپل کړنی ته ادامه ورکړچی دهغو څخه **دپنځم ستنی** په بڼه د شوروی ا تحاد پر ضد کا ر واخيست .

دعراق په وړاندی د متحده ايالاتو کمزوره يا کم شد ت جنگ د کا ل (1991) دخليج پا رس له جگړي څخه بيا ترکا ل ( 2003) کی دعراق جگړه ، حالاتو سره داسی مرسته وکړچی ددغه هيواد ترمحاصری لاندی سيمی سره وويشي ، دعراق « کرد ستا ن » د ممنوع پرواز د سيمی درامينځته کيد و په مرسته سره ، متحده ايالات په آزاد نه بڼی سره د عراق د شما ل په نفت خيز سيمه کی بشپړ لاسرسی پيداکړ،نو په دي اسا س متحده ايالات هلته يوشبيه دولت(Quasi State) کوم چی دهغه ابزار په عراق کی وه رامينځته کړ و دا هرچا ته څرگند دی چي بي له کوم شک دعراق «کردان» د **صدام حسين** دحکومت تر ستم لاندی مظلوم پريوتي وه اما بياهم بي له کوم ترديد عراقی «کردستان» دامريکی دلاس دغتی گوتي لاندی په يوه مشتری هيواد باندی واغوښتل يا تبديل شو اوپه دي کی هم شک نشته چی د ممنوع پروازد سيمی رامينځته کول هم غيرقانونی وه لکه هغسی چی د ملگرو ملتونودسازمان عمومی منشي **بتروس بتروس گالي**(Boutros Boutros Ghali) د **جا ن پيلگر** (Jhon Pilger) سره په يومصا حبه کی پردی موضوع ( ممنوع

پرواز سیمه ) باندی اعتراف کوی .
اواوس لا هم متحده ایالات دعراق په شما ل کي دعرا قی (کردانو) څخه د ګټي یا دهغوي له په کارولو سره غواړی چي عراق په دري برخو با ندي وویشی .
نوا مریکي د دی مقصد د پلی کولو په منظور په **اربیل** (Erbil) کی دنړۍ ترټولو لوی قونسلګری جوړوی یعنی هغه څه چی دوي یی په پام کي نیسي په ساده ډول دیو هیواد رامینځته کول دي .
لکه څنګه چي اوس مسله ټولو ته روښا نه شوی یا ښه پیژند ل شوی او هغه دا دي چي متحده ایالات هم په سوریه کي (کردان) دپلمی په توګه کاروی چی په دی کارسره دهیواد (27) سلنه برخه پخپل اشغا ل کی وسا تي – اما دامرسته نه کوی چی څومره **دکُرد** ملیشو (Syrian Democratic Force =SDF) او ( positive Youth Developmen = PYD) ددموکراسی ،فیمینیزم اود کمونیزم ادعا کوی هغوی خپل دفاع (دادخواهی) د متحده ایالاتو لپا ره چی غواړی د سوریی شما ل ختیځ برخه اشغال کړی سر ته رسولی یعنی چي هغوی نه غواړی چی په دی برخه کی دامریکی ملاتړ وکړي .

## دنوي نړیوال جنګ لپاره تیاري :

اسرایل او امریکا دایران په وړاندي جګړي ته تیاری نیسي دوی په دی مبارزه کي په هغومره اندازه چي وکولای شي خلکو ته دوکه ورکړي یا خلک وغولوي پرمختګ کړي دي په منطقه کي ریښتینی نا رضا یتي کوم چي له هرسببه وي ترسترګو کیږي کوم چی دغه نارضا یتی له ټولو اندولو څخه د پرسیدو په حا لت کی دی چي هرومرو په پای کي به وچوی- « **تولنیز خوځښتونه**» به داسرایلو او متحده ایالاتو د] (مجموعی شورش = Rootkate = روټکیټ د سافټویر سیټ دی چي د کمپیوټر سیستم کنترول اخلي. پدې ډول برید کې ، د سیستم کارونکي به روټ کټ ونه ګوري،اود کمپیوټر هیکر کولی شي په بشپړډول د کمپیوټر تنظیمات بدل کړي...**تفصیل ددی قلم پواسطه** ]اود وروستی موجوده خبرونو سره به سمبال شي اود ډیری ګرم نقدی پیسو سربیره د روزني او لوژیستیک ملاتړبه هم ترلاسه کړي . یعنی چی «ټولنیز خوځښتونه » په هر بڼه چی وی د امریکی اود اسریل

پواسطه سره به دهغوی په ګټه مها ر شي .
ممکن د«1919» پولویا سرحدونو د بیا کتني لپا ره ښه دلایل وجود ولري ، مګر دنن ورځی دحالاتو په نظرکی نیولو سره دا ډول اقدام به ژر تر ژره لوی جنګ را مینځته کړي ،ځنی خلک وایي چي «کردان» حق په جانب دی چي پخپله دولت ولري اوشاید چی همداسی هم وي! اما پوښتنه دلته په نهایت کي دا دي چی دهرچآ له خوا په دی مورد کي ولی پریکړه کیږي پرته له دي چي«کردان» پخپله تصمیم ونیسي .
ستونزه د لته دادي چي د نن ورځی جیو پولیتیکل وضیعت کی د متحد یا د یو موټی (کرد ستا ن) رامینځته کول په لمړي سرکي دی ته اړین دي چي مخکی له هر څه نه ، **ترکیه** ، **سوریه** ، **عراق** او**ایران** مات کړل شی کوم چی دا خورا ډیر ستونزمن دی چی دغه هیوادونه بی **دکردانو** د متحد ینو مات کړ شي اویا چي دا موضوع را پیښ شي . نه هسی لړ ترلږه کوم چي **روسیه اوچین** شخړی ته اړ ا یستل شوی - اوبیا مونږ پخپلو لاسونو کي نوی نړیوال جنګ ولرلو اوبیا به مونږ ته دنوی نړیوال جګړی په رامینځته کیدو سره بیاځی د سلو ملیونو خلکو د وژنی موضوع چي ددوه نړیوال جګړی له امله خپل ژوند دلاسه ورکړ پوښته به وجود ونه لری بلکه به په دی نوی جګړه کي څو څو چنده خلک به خپل ژوند دلاسه ورکړي ننی بشری تمدن به دخاوری سره خاوری شی کوم چي بیا په دی صورت کي **دکردانو** پوښتنه دومره ارزښت نه لري .

دې معنی دا نده چي یو څوک باید د ظلم او بې عدالتی پروړاندې مبارزه ونه کړي چیری چي دا ټولنیز اویا ملي وي. مطمیناً چی یو له دي څخه باید وي مګر تا سو باید پوه شئ چې د مینځني ختیځ د نقشې اصلاح کول یو ډیر خطرناک پلان دی او داچې تاسو په دی ډیرخطرناک پلان کی شرکت کول غواړی کوم چي دغه خطر ته دپای ټکی کیږدي د دې لپا ره بد یل د یوې سیاسي مبارزې ملاتړ کول دي چې د متحده ایالاتو او اسراییلو واکمني زیا نمنوي او په دې توګه د راتلونکو مبا رزو لپا ره غوره شرایط رامینځته کوي.
دا کومه نوی خبره نده چي کوچنی ملتونه په جیو پولیتیک وضیعت با ندی چي

*خپل یوډول ملی اسقلال ته ورسیږي ډېره لګوی د بیلګي په بڼه دا موردځما دخپل هیواد نا روی (Norway) لپاره کوم چي دا په ناپیلیونیک جنګ کي د فرانسی ما تی وه چي په کا ل (1814) کی **د نمارک** د **نا رویی** ولایت **سویډن** ته له لاسه ورکړي ،خو په ورته وخت کي داسی یو حا لت را مینځته شو چي **نا رویی** دخپل داخلی رول دلوبولو لپا ره جلا اسا سی قانون جوړ کړي کال (1814) دنارویی بنسټ ایښیدونکو پلرونوته تول ویاړورپه برخه کړاما دغه پریکړه داروپا دجګړي په ډګرونو کي ونیول شو اویو ځل دا بیا هم د روسیی ماتي دروس اودجاپان په جګړه کی وه چي نژدی « **سل** » کا له وروسته په کا ل (1905) له **سوید ن** سره دجبری اتحا دیی تحلیل لپا ره جیو پولیتیک اسا س کیښود . په دی کي شک نشته چي روسیی خپل ډیر بیړی په دلاس ورکولو سره په لیری ختیځ کی د قدرت خلا په غرب کی رامینځته کړی وه چي د بهره برداری وړ وه .*

*له همدې امله ، اوس مها ل ترټولو غوره کا ردا نه دی چې د دولتونو ټوټه ټوټه کول وی، بلکه د متحد جبهې ملاتړ کول دي ترڅو متحده ایالات له مینځني ختیځ څخه وبا سي. په بغداد کې دملیونونو خلکو مارش د با ل رول( Ball Rolling) و لوبولی. اود دې ترشا حتی د نورځواکونو رامینځته کولولپاره هر دلیل شتون لري. یوازې کله چې متحده ایالات وتلی وي یا له مینځنی ختیځ څخه وویستل شي ، یا د سیمې خلک اوهیوادونه به وکولی شي چي د یو بل تر منځ سوله ایزې موافقې ته ورسیږي ، کوم چې به غوره راتلونکي ته وده ورکړي. او پدې شرایطو کې ، دا یوه ګټه ده چې **چین** د«وریښمو لاره ته وده ورکوي (دیوکمربنداودیو جاده نوښت) نه داچې **چین** د نورو لوی ځواک په پرتله هسی یو نجیب دی ، مګر ځکه چې دا پروژه ،لږترلږه په اوسني حا لت کې ،غیرفرقه ایزه ،غیر انحصاری اوپه واقیعت کي یو څو اړخیزه پروژه دي . یعنی چي د متحده ایالاتو دانحصاری اویا دتسلط اود حاکمیت په وړاندی اوهم په نړی کي د واشنګټن د پولیسی کنترولی دندی په مقابل کی اوهم دنړي څو قطبی کولو لپاره یوه بدیل دي . اوس کوم چی مونږه وربا ندی خبری کوو مسله دخپل ودی په حا لت کی دی کوم چي دامپراتوری ورځ*

شمیرنه کوی اوداسی په نظر راځی چي د (20)او (50) کلونو څخه وروسته هغه څه چي مونږ دهغه په انتظا ر کی یو را به ښکاره شي.

**د لیکوال په اړه څو کرښي :**

پول ستیګن د نا روي وتلی خبریال او فعا ل دی ، اوسمهال د خپلواک خبري سایټ ستیګین.نوی مدیر دی. ژباړه د تیرجي ما لوي لخوا .

------------------------- **په احتراما تو** » 2020-02-06 «